Sprin Multidisciplinary Journal in Pashto, Persian & English
Abbreviated Key Title: *Spr. Multidiscip. J. PS. Per. E.*
Journal homepage: https://sprinpub.com/smjppe/
**ISSN: 2584-0975 (online)**
*Vol.1(01). Sep 2023, pp, 10-21*
OPEN ACCESS

*Research Article*

# The Need and Value of Preserving Folklore
# د فوکلور خوندي کولو اړتیا او ارزښت

**Obaidullah Agheez[1*], Baryalay Azizi[2]**
عبیدالله اغیـز[1*]،بریالی عزیزي[2]

[1]Department of Pashto Language and Literature, Education Faculty Ghor Organization of Higher Education, Afghanistan
پښتو څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځی، غور لوړو زده کړو موسسه
[2]Department of Pashto Language and Literature, Nangarhar University, Afghanistan
پښتو څانګه، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، ننګرهار پوهنتون

**DOI:** 10.55559/smjppe.v1i01.162 **Received:** 10.01.2023 | **Accepted:** 15.08.2023 | **Published:** 25.08.2023

**Electronic reference *(Cite this article):***
Agheez, O., & Azizi, B. (2023). The Need and Value of Preserving Folklore: د فوکلور خوندي کولو اړتیا او ارزښت. *Sprin Multidisciplinary Journal in Pashto, Persian & English*, *1*(01), 10–21. https://doi.org/10.55559/smjppe.v1i01.162

**Copyright Notice:**
© 2023 the Author(s). This is an open access article published by Sprin Publisher under the Creative Commons' Attribution 4.0 International (CC BY 4.0) licence. https://creativecommons.org/licenses/by/4.0/

## Abstract

Folklore forms a large part of society. The term folklore is a compound English word that has a Germanic root and is used to mean wisdom, intellect and knowledge of the people. Folklore plays a significant role and assists future generations in understanding the life, thoughts, traditions, social aspects, national values, histories, pride and other things of the people of their nation. As a result, it can be easily compared with the current situation and take advantage of early experiences, because folklore can provide considerable needed elements and materials with respect to social, political, economic and historical research. It is a fact that folklore has a fundamental value in the literary history, political history, economic aspects and artistic tastes of a language. The significance of collecting folklore is that it strengthens the spiritual and material relationship of the people associated with their lives and tells each other thoughts, feelings, emotions and aspirations.

Another importance of collecting folklore is that it can be used in the study of linguistics, sociology, literary studies, social relations, and human civilization. Researchers in this field are required to pay attention to the folkloric elements of the people. If not so, their work will be insignificant. If we look at the history of folklore, it is clear that when humans faced natural disasters, they did not have any scientific approach to investigate the respective events, but rather their own thoughts and experiences. Keeping in mind those assumptions and experiences, we can predict that folkloric suppositions and experiments were the data for

present researchers, which were based on experiments and now based on scientific facts that show the worth of folklore in society.

**Keywords:** *Society, Folklore, preservation, The Need, Value, Stuff*

**لنډیــز**

فوکلور د یوې ټولنې لویه برخه جوړوي چې دا یوه مرکبه انګلیسيـ کلمه ده او ژرماتیکه رېښــه لري چې د خلکو د حکمت، عقل او پوهې په معنا کاریږي. د فوکلور خوندي کولو ستر ارزښت دا دی چې نوي او را روان نسلونه د خپل ملت د خلکو د ژوندانه، فکرونو، هیلو، غوښتنو، دودونو، ټولنیزو اړخونو، ملي ارزښتونو، پېښو، تاریخونو، ویاړونو او د نورو څېزونو په څرګندتیا او پوهېدا کې مرسته کوي او له مخې یې د اوسني حالاتو سره د پرتلنې وړ کېدای شي او له زړو تجربو هم ګټه اخېسـتلی شو، دا ځکه چې فوکلور ټولنیزو، سـیاسي، اقتصـادي او تاریخي څېړنو لپاره ډېر اړین عناصر او غوره مواد برابرولی شي. دا یو حقیقت دی چې فوکلور د یوې ژبې په ادبي تاریخ، سیاسي تاریخ، اقتصادي اړخونو او هنري ذوقونو کې هم بنسټېـــز ارزښت لري او د خوندي کولو اړتیا یې ډېره محسوسېږي.

د فوکلور خوندي کولو اړتیا او ارزښت دا هم دی چې د ملتونو او ولسونو په ژوند او ژواک پورې تړلې معنوي او مادي اړیکو پالل لا پسې پیاوړې کوي او یو د بل له مفکورو، احساساتو، عواطفو او هیلو نه یې خبروي.

د فوکلور خونـدي کولو بلـه اړتیـا او ارزښـــت دا دی چې د ژبپوهنې، ټولنپوهنې، د ادبیـاتو پېژنـدنې، د ټولنیزو اړیکو پاللو او د بشري مدنیت، تاریخونو او نورو اړخونو په سـپړلو او څېړلو کې ګټه ترې اخېسـتل کېدای شي او د دې هر مسـلک پوه او څېړونکی اړ دی چې د ولس فوکلوریکو توکو او عناصرو ته سر ور ښـکاره کړي او که داسې ونه کړي، نو بویه چې کار به یې له تېروتنو او نیمګړتیاوو بشپړ او پوره ډک وي.

که د فوکلور تاریخي ارزښـت او مخینې ته وګورو، نو دا تـــرې جوتېږي چې انسـانان به له طبیعي پېښـو سره مخ شول، نو د هغې تحلیل لپاره ورسره کومه ساینسيـاله نه وه، بلکې د دې ډول پېښو لپاره به یې له ژور فکر او تجربو نه کار اخېست. که اوس هماغو انګېرنو او تجربو ته ځیر شو، نو یو شمیر فوکلوریکې انګېرنې او تجربې د اوسـنیو انسـانانو د سـاینسيـ څېړنو او پلټنو خام مواد وو چې هغه وخت په تجربو ولاړ وو او اوس ترې سـاینسيـ حقایق رازیږدلي دي چې دا د فوکلور یو ډول اړتیا او ارزښت بلل شوو.

**کلیدي کلمې:** ټولنه، فوکلور، خوندي کول، اړتیا، ارزښت، توکي.

**سریزه**

په اوســني عصرــ او زمان کې فوکلور خوندي کول اړتیا او فوکلور څېړنه خپل ځانګړي ارزښــتونه لري چې ډېره غوره علمي موضـــوع بللی شي. د فوکلور خوندي کولو او فوکلور څېړنې بهیر ته ځکه اوس یوه ځانګړې پاملرنه

شوې چې له يوې خوا نوی نسـل بايد د پخواني ټولنيز انسـاني ژوند له فوکلوريکو توکو او عناصرو سره ا شنايي پيدا کړي، له بلې خوا د فوکلور خونـدي کولو اړتيـا او ارزښـــت به د فوکلور څېړنې او نورو پوهنو، پنځونو او تاريخي اړخونو سره خورا مرستـــــندويه شي. همدا لامل دی چې په معاصرو علمي، تاريخي، اقتصـادي او ادبي څېړنو کې د فوکلوريکو توکو او موادو نه ګټنه کېږي. په دې مقاله کې هڅه شوې چې د فوکلور خوندي کولو بېلابېلې اړتياوې او ارزښـــتونه راجوت شوي، يعنې په هر ارزښـــت يې بېل بېل بحث شوی او په هره علمي او فوکلوري برخه کې يې اړتيا او ارزښت په ډاګه شوی دی.

که څه هم د فوکلور په اړه ډېرې ليکنې شوي او هم کتابونه پرې ليکل شوي دي، خو په دې کې د فوکلور خوندي کولو اړتيا او ارزښـت په اړه ډېر اړين بحثونه نه دي وړاندې شوي، نو موږ اړينه وبلله چې په ياده موضوع يوه علمي مقاله وليکو چې هرې اړتيا او ارزښت ته يې د فوکلوريستانو پام راواوړي چې په دې برخه کې لا ډېرو اړينو کارونو ته متې را بډ وهي او په ســمه بڼه د ولســونو د لهجو او تلفظونو سره ســم اړوند فوکلوريکي عناصر او توکي راټول کړي او هغه په اصلي بڼه خوندي کړي دي.

## د موضوع ارزښت

د دې مقالې ليکنی ارزښـت په دې کې دی چې د ولسي- پرګنو فوکلور خوندي کول څومره اړين او ګټور دي او څومره د ژبې او ادب پانګې ته ارزښـت او بډاينه ورکولی شي، همداســې نورو ټولنيزو علومو سره څومره د خامو موادو او توکو په توګه مرسته کوي. ځوان نسل څومره د خپلو مادي او معنوي ارزښتونو او وياړونو سره اشنا کوي او هغوی ته يې د ســاتنې او پالنې احســاس او روحيه ورکوي. د ادب څېړنې له مخې ډېر ارزښـــت لري، هم د ټولنپوهنې په برخه کې خورا ارښـتمن بلل کېږي او کله لا مؤرخينو ته هم ښــه او غوره توکي او ټکي په مخ کې ږدي. بله دا چې د دې مقالې ارزښت په دې کې دی چې فوکلوريستانو ته پکې اړينې لارښونې هم شوي دي.

## د څېړنې مواد او کړنلار

که څه هم د فوکلور په اړه ډېرې ليکنې ترسره شوي او هم ډېر کتابونه او اثار پکې ليکل، ســپړل او څېړل شوي دي. په دغو اثارو کې د فوکلور خوندي کولو اړتيا او ارزښـــت په اړه تېت او پرک اندونه وړاندې شوي چې بيا کتنـــــه يې اړينه وه، نو موږ له همدې اثارو نه په ګټنـــــې سره د فوکلور خوندي کولو اړتياوې او ارزښونو په ډاګه کړي دي.

بله خبره د کړنلارې ده، دا خو جوته ده چې هر څېړونکی د خپلې څېړنېزې او تحقيقي موضـــوع لپاره له يوه ځانګړي مېتود او کړنلارې نه کار اخلي، نو د دې موضـــوع ترتيب او ډول کتابتوني بڼه خپلوي او مېتود يې توضيحي او تحليلي دی چې ټوله موضوع همدغه رنګ او بڼه لري.

## اصلي موضوع

زموږ تر څېړنې او سپړنې لاندې موضوع د فوکلور خونديز کولو اړتيا او ارزښت دی، څکه د فوکلور د نورو اړخونو په اړه بشپړ بحث نه کوو، خو برسېرنه او ځغلنده پرې ورتېرېږو او بيا آرې موضوع ته ننوځو. د بشري فرهنگ سرچېنه او پيل له فوکلور نه شوی او په ورو ورو يې د ودې او تکامل پړاوونه وهلي او تر ننني پرمختللې او متمدنې نړۍ پورې رارسېدلی دی. دا خو څرگنده ده چې د هرې ټولنې او هر قام په ژبه او په ټولنيز ژوند او ژواک کې خپل خپل بېلابېل ارزښتونه، وياړونه او فوکلوريکي سرچينې، اړخونه او رنگونه په څپو ښکاري، په همدې بنسټ د مرکزي اسيا په ټولنو کې پښتني ټولنه د فرهنگ او فوکلور له اړخه خورا درنه پانگه او زېرمه په خپلې ولسي ـ ځولۍ کې رانغاړي چې دې ولسونو سره يې د ژوند په هر ډول حالاتو او شرايطو کې غاړه غړۍ د مزل تنابونه را لنډ کړي او يا خوله په خوله ورسره گرځېدلي دي. بله داچې دغه فوکلور د دې ولس د پراخو پرگنو د مينې او وينې ښکارندويي هم کوي. دی ولس په خپلو دغو ولسي ـ ادبياتو وخت پر وخت خپله هنري تنده ماته کړې او خپل لوړ ذوقونه يې پاللی دي. څکه خو يې د دوی د ولسي ـ او ټولنيز ژوند يوه رڼه هېنداره بللی شو. مخکې له دې چې د فوکلور ټولنې ارزښت را جوت کړو، نو اړينه ده چې د فوکلور پر مرکبه کلمه يو لنډکی بحث وکړو، په اړه يې داسې لولو: «فولکلور يا فوکلور يوه انگليسي ـ کلمه ده چې له (فولک) او (لور) نه ترکيب شوې چې (فولک) د خلکو او (لور) د پوهې او حکمت معنا ورکوي او مجموعي معنا يې د خلکو پوهه يا ولسي پوهه کېږي. دا اصطلاح لومړی ځل انگريزي ليکوال ټامس په ۱۸۴۹ع کال د همدې مفهوم لپاره وضع کړه.» (رفيع، ۱۳۹٦ل: ۴٦مخ)

که د دې کلمې تلفظ او وينگ ته وگورو: «نو په خپله انگريزي ويونکي د فولکلور کلمه د (فوکلور) په بڼه تلفظ کوي، خو په نورو ژبو کې چې همدا کلمه يې په عاريت اخېستې ده، معمولاً(ل) هم تلفظ کېږي او فولکلور يې ليکي او هم يې وايي.» (روهي، ۱۳۹۹ل: ۵مخ)

د پايلې په توگه ويلی شو چې فوکلور د يوې ټولنې لويه او اړينه برخه جوړوي چې يوه مرکبه انگليسي ـ کلمه ده او ژرماتيکه رېښه لري چې د خلکو او وگړو د حکمت، عقل او پوهې په معنا کارېږي او همدغه اړخونه يې تر څېړنې لاندې نيسي ـ د فوکلور په اړه يوې پېژندنې کې داسې لولو: «فولکلور د عوامو خلکو، د يو ملت يا يو قام او يا د يو نژاد په نظر کې د حقايقو مجموعه ده، د دوی عنعنوي سرمايه ده او د ژوند او جهان په باب د دوی فکر او عقيده، معلوماتو او د يو هېواد په فولکلور کې د هغوی ټوله ماضي او د موجودو او را تلونکې ژوند دپاره ارزښتونه دي.» (جاج پښتون زوی، ۱۳۸۷ل: ۱مخ)

يوه بله پېژندنه يې د امريکانا انسايکلوپيډيا کې داسې شوې: «فولکلور يو جنريک (عام) نوم دی چې د عوامو خلکو پر هغو عنعنوي عقايدو، خرافاتو، کړو وړو، دودونو او شعايرو دلالت کوي چې له څنډنو وختونو

ځخه تر اوسه په جزيي، تعديل شوې او يا لاس ناخوړلې توګه را پاتې شوي او معاصرو پوهنو او د دين له منل شوو چلن بېلګو ځخه د باندې واقع شوي دي.» (روهي، ۱۳۹۴ل: ۵مخ)

فوکلور د يوې ټولنې، قام او يا د يوه ملت د مادي او معنوي شتمنيو د ارزښت وړ ټولګه ګڼلی شي چې له مادي پلوه يې ټاټوبي، ودانۍ، د معمارۍ ډولونه،کاشي کاري، انځورګري، حکاکي، هېکل تورنه، بېلابېل وسايل، جامې، ګنډنې، ګلدوزي، زرګري، د اوبدلو ډولونه، د ځښاک او خوراک لوښي او دې ته ورته نور ځېزونه رانغاړي. په معنوي اړخ کې يې بيا د وګړو ژوند او ژواک، اخلاق، کړه وړه، علم، پوهه، فکرونه، خويونه، عادتونه، افسانې، اسطورې، فالونه، روايتونه، متلونه، انګېرنې، ټوکې، ملنډې، کېسې، نکلونه، هنرونه، سياستونه، اصطلاحات، محاورې، لنډۍ، سندرې، زمزمې، اتڼونه، نڅاوې، دعاوې، ښېراوې، رټنې، بېلا بېل دودونه، لوبې، (کېسې، دوبې، اړونې او ټکونې) او دې ته ورته نور بې شمېره ارزښتونه او اړخونه پکې ځای لري.

دا خبره هم د پام وړ ده چې په نړۍ کې د نولسمې ميلادي پېړۍ تر پيله پورې فوکلوريکو ځېړنو او شننو دومره ارزښت نه درلود او نه يې دومره اړتيا محسوسه وه، خو په همدې پېړۍ کې لږ وروسته ورته د ځينو ختيځ پوهانو او ځېړونکيو پام را واوښت او دغه ختيځ پوهان د پښتني ټولنې په کليو او بانډو، په حجرو او دېرو کې وګرځېدل او پښتني فوکلوريکي ځېړنې او شننې يې ترسره کړې او په دغه برخه کې ځينو يې کتابونه او اثار را منځ ته کړل، خو په خپله پښتنو ورته په شلمه ميلادي پېړۍ کې پام وکړ او د ځينو سېمو له کليو، درو، بانډو او کېږديو نه يې بېلابېل فوکلوريک توکي او عناصر راټول، خوندي او د ځانګړو کتابونه په بڼه يې چاپ کړل چې يوه برخه يې له ورکېدا وژغورله او د خوندي کولو په الماری کې يې کېښودل.

که همدې اړخ ته پام وکړو، بيا د خپلې ټولنې د شرايطو او حالاتو په رڼا کې يوه رښتينې ارزيابي وکړو، نو د پښتني فوکلور او ګړني ادبياتو د برخو په شتو او کړو کارونو، ځېړنو او شننو يوه ځغلنده رڼا واچوو، نو د دې شويو کارونو او ځېړنو ارزښت او اړتيا په خپل ځای ده، خو چې دغه راټولونې، خوندي کونې او ارزونې ځينې نيمګړتياوې هم لري، دا يې ګټورتوب ته دومره ځه زيان نه شي رسولی، يعنې که موږ پښتني فوکلور د را ټولونې او خوندي کونې بهير له نظـــــره تېر کړو، نو ترې را څرګندېږي چې د فوکلور ټولونې او خوندي کونې د پيل سره سم د وخت د حالاتو او شرايطو د ځېرلو په رڼا کې هر ځېړونکي چې څه را پيدا او تر لاسه کړي دي او بيا يې پرې ځېړنه او شننه کړې، له خپل ذوق او لېوالتيا سره يې په يو ډول نه يو ډول معرفي کړي، نو له بله پلوه يې ارزښت او اړتيا په دې کې وه چې د ورکېدا نه يې ژغورلي او خوندي کړي يې دي. دلته بايد دا هم ووايو چې په ټوليز ډول پښتني فوکلور خوندي کولو کار ته لا هم اړينه اړتيا ليدل کېږي، ځکه چې دا څو لسيزو جګړو هر څه رانه لولپه کړي او هم يې ورسره زموږ ولسي خلک د مرګ کندې ته ټيل وهلي دي.

که د فوکلور تاريخي ارزښت او مخينې ته وګورو، نو دا تـــــرې جوتېږي چې انسانان به له طبيعي پېښـو سره مخ شول، نو د تحليل لپاره ورسره کومه ساينسي-اله نه وه، بلکې د دې ډول پېښـو لپاره به يې له ژور فکر او

تجربو نه کار اخېست. که اوس هماغو باورونو او انګېرنو ته ځیر شو، نو یو شمیر فوکلوریکې انګېرنې او فکرونه د اوسنیو انسانانو د ساینسي-څېړنو او پلټو خام مواد او توکي وو چې هغه وخت په تجربو ولاړ وو او اوس ترې ساینسي-حقایق رازیږدلي دي چې دا د فوکلور خوندي کولو بل ارزښت دی. په همدې اړه یو ځای کې داسې لیکل شوي: « په فولکلوري پانګو کې ډېر داسې مواد شته چې د بشري پرمختګ او پرمختیا په لوري یې لارښوونه کړې او بشر ته یې د ایجاد او اختراع په زړه پورې فکر ورکړی.» (وفا، ۱۳۹۸ل: ۸مخ )

فوکلور خوندي کول خورا ستر ارزښت لري، باید راټول شي، خوندي شي او په سمه بڼه وشنل او وسپړل شي، په اړه یې لولو: « د دې ډول اثرونو راټولول، خوندي کول، چاپول او په هغو څېړنه کول زموږ د فوکلور د ځانګو او ځوانو فوکلوریستانو له اساسي او مهمو دندو څخه ګڼل کېږي. دا اثرونه له یوې خوا د فوکلور ټولونې او فوکلور څېړنې او له بلې خوا د ادب ټولونې او ادب څېړنې له مخه زیات ارزښت او اهمیت لري او د ټولنپوهنې څېړندویانو او کله لا مؤرخانو ته هم ښایسته د استفادې وړ ټکي په لاس ور کوي، نو ځکه دې برخې ته زیاته توجه او ډېر دقت په کار دی.» (بختانی، ۱۳۹۹ل: ۱۰۳مخ)

که دې اند ته وګورو، نو د فوکلور په راټولونې، خوندي کولو او چاپونې ټینګار شوی، ارزښت او اړتیا ته یې نغوته شوې او هم د ټولنپوهنې څېړندویانو او مؤرخینو لپاره مرستندوی بلل شوی. فوکلور د بېلابېلو لارو چارو په مرسته راټولېدای او خوندي کیدای شي، خو په اصل کې دوه لارې موجودې دي چې عبارت دي: « لومړی له خلکو نه او دویم له کتابونو او نورو اثارو نه» (روهي، ۱۳۹۹ل: ۹۶مخ)

دلته له خلکو نه را ټولول او خوندي کول په دې معنا چې فوکلوریست او راټولونکی باید د ولسونو په منځ کې د هغو له ژبو فوکلوریک عناصر او توکي په هماغه بڼه راټول او خوندي کړي، په پوره غور او دقت سره خپل کار ترسره کړي. له کتابونو او نورو اثارونه نه یې راټولول دا دي چې ښایي په هغو کې به خواره واره توکي او مواد وي. زموږ د ولسي-پنځګرو په پنځونو کې یې هم اړینې بېلګې په څېر دي. که په سمه او منظمه بڼه ترې راواخېستل شي، بیا و شنل او وڅېړل شي او هم یې ارزښت او اړتیا په ډاګه کړای شي، نو ګټه یې ډېره ده. د راټولېدو او خوندي کیدو یوه لار یې دا هم ده چې فوکلور او ولسي-ادبیات باید له نالوستو او بېسوادو کسانو او خلکو نه را ټول کړای شي، خو کله دې ته هم اړتیا پېښېږي چې له لوستو او سودا لرونکو یې هم ځینې اړخونه را ټول او تر لاسه کړای شي او بیا خوندي کړای شي.

د فوکلور خوندي کولو اړتیا او ستر ارزښت دا دی چې نوي او را روان نسلونه د خپلې ماضي ټولنې یا د خپل ملت د وګړو د ژوند او ژواک، فکرونو، اندونو، هیلو، غوښتنو، دودونو، بېلابېلو ټولنیزو اړخونو، ملي ارزښتونو، پېښو، تاریخونو، ویاړونو، یادګارونو او له نورو څېزونو په څرګندتیا او پوهېدا کې یې مرستندویه ګرځي او پر مټ یې د اوسني وخت د حالاتو سره د پرتلنې احساس کوي او روحیه یې پیاوړې کوي، دا ځکه چې فوکلور ټولنیزو، سیاسي، اقتصادي او تاریخي څېړنو او ګروېږنو لپاره ډېر اړین توکي، عناصر او غوره مواد

برابرولی شي. دا یو حقیقت دی چې فوکلور د یوې ژبې په ادبي تاریخ، سیاسي تاریخ، اقتصادي اړخونو او هنري ذوقونو کې بنسټیز ارزښت لري.

د فوکلور خوندي کولو ارزښت دا هم دی چې د ملتونو او ولسونو په ژوند او ژواک پورې اړوندو معنوي او مادي اړیکو پالل لا پیاوړي کوي او یو د بل له مفکورو، احسـاسـاتو، عواطفو او هیلو نه یې خبروي او بیا زړو تجربو ته د کتنې له مخې د نویو تجربو پر بنسټ پر مخ ځي.

که یو څوک غواړي چې د یوې ټولنې او ولس د ژوند له کړو وړو، اخلاقیاتو، عقایدو، مفکورو، انګېرنو، کېږنو او نورو اړخونو باندې ځان پوه کړي او د هغوی هر اړخیز تاریخي، اقتصـادي او فرهنګي دریځونه راڅرګند کړي، نو د هماغې ټولنې په فوکلور کې ورته ژوره مطالعه پکار ده، که چېرې فوکلور په سمه بڼه راټول شوی وي، نو دا هر څه به د یو ارزښـــت په توګه وپېژندل شي او که نه وي، نو بیا به یو جلعي توکی او عنصرــوګڼل شي. د ولس د ژوند انځور په اړه لولو: «د یو ولس د ژوندانه له پیله تر پایه هرڅه ووینو او پرې پوه شو، د ولس په ځانګړې ژبه د دوی ماتې او بریاوې او یا ټولې ژوندونی پېښې کره کړی شو.» (وفا، ۱۳۹۸ل: ۱۴مخ)

د فوکلور خوندي کولو بل ارزښت دا دی چې د ژبپوهنې، ټولنپوهنې، د ادبیاتو پېژندنې، د ټولنیزو اړیکو پاللو او د بشرـمدنیت، تاریخیت او نورو اړخونو په سـپړلو او څېړلو کې ګټنه ترې کېږي او د همدې هر مسـلک پوه او څېړونکی اړ دی چې د ولس فوکلوریکو توکو او عناصرو ته سر ورښـکاره کړي او که داسـې ونه کړي، نو بویه چې کار به یې له تېروتنو او نېمګړتیاوو خالي نه وي.

د فوکلور خوندي کولو بل ســتر ارزښـــت په دې کې دی چې له مرګ او ورکېدا نه ژغورل کېږي او را تلونکیو وګړو ته د یو میراث په توګه ډېر څه په لاس ورکوي، نو ویلی شو، که هر فوکلور ټولوونکی یا«هغه څوک چې د وګړو خویونه او عادات، دودونه، دیني او مذهبي نمانځنې، خرافات او توهمات، روایتي نظمونه، نکلونه، متلونه او نور شیان څېړي په نتیجه کې هرومرو دوه ټکي ورته اوځاربېږي، لومړی داچې تر ثبتولو پخوا د فوکلور ډېره ارزښتناکه برخه د انسانانو له مرګ سره یو ځای د هغوی په مغزو کې ګور ته ور سره تللې او تر خاورو لاندې شوې ده. دویم داچې که موږ فوکلوري مواد ثبت کړو، له مرګ ژغورل کېږي او راتلونکي نســـلونو ته ژوندي پاتې کېږي، د هېڅ هېواد خپرونې باید د فوکلور له خپرولو غاړه ونه غـړوي.»(جاج پښتون زوی، ۱۳۸۷ل: ٦مخ)

دغه اند ته په کتو په کار دي چې زموږ د فوکلور هره برخه دې راټوله کړای شي او په ســـمه بڼه دې خوندي کړای شي، یو فوکلوریسـت په اړه داسې لیکي: «زموږ فولکلور باید سېمه په سېمه او کلي په کلي راټول کړل شي، ځکه له دې لارې کېدلی شي چې موږ د خپل فولکلور د علمي څېړنې او تحلیل لپاره پوره خام مواد تر لاســـه کړو او د دې موادو له مخې په خلاص مټ خپل فولکلور د خپل ملي کلتور په رڼا کې له خپلو ټولو جزئیاتو سره خوندي کړو.» (رفیع، ۱۳۹۸: ۸۴مخ)

د فوکلور خوندي کولو یو ارزښت په دې کې دی چې د ټولنې د وګړو او خلکو له ژوندانه سره یو ځای پرمختګ او وده کوي، همدغه وده د دې لامل ګرځي چې د ټولنې وګړي او خلک باید د ماضي حالاتو، ښېبو او وختونو نه تر اوســه پورې له ځانه څه او کوم توکي پرېښــي دي. ولې یې دا توکي پالللي دي او یا ولې ورته دومره ارزښتمن دي چې په پاللو یې اړ وو او یا اوس هم اړ دي.

فوکلور د تاریخ پـه اوږدو کې د انســـاني ژونـد بېلابېل اړخونـه او خواوې راســپړي، پرمختګونه او نېمګړتیاوې یې راښــيي او ولسيــ ذهنیت او ذوق څرګندوي، د ولســونو او قامونو یووالی او بېلابېلې ســیالۍ را جوتوي، نو همدېته په کتو یې د خوندي کولو ســتر ارزښــت دا دی «چې فوکلور په لیک او راټولولو سره موږ ښېبـــې او زمانې خوندي کوو. د انساني ژوند کړه وړه او پرمختګونه جوتوو، د انسان فکري او ذهني پرمختګ خوندي کوو، که د یوې ټولنې فوکلور راټول او خوندي نه شي، نو نورو علومو ته هم د هغې ټولنې د پېښــو او ژوند بېلابېلو اړخونو پوره څرګندونه کېدای نه شي. د تېر ژوند په افســانو کې د نوي ژوند او نوي دور څېره وینو، هغه ملتونه او قومونه چې فوکلور یې راټول شوی او خوندي شوی، هغوی خپل ذهني او فکري پرمختګ په تېر ژوند کې ویني، تېر ژوند یې د ژوند د پوړیو لومړی پوړ دی، د هغوی هنري او پوهنیز ارزښــتونه هم له همدغو توکیو جوتېږي.» (ازمون، ۱۳۹۵ل: ۳۶مخ)

دا اوســنی عصرــ او زمان د انســاني پرمختګونو یوه چټکه لړۍ روانه ده چې انســاني ټولنې د ســاینس، کمپیوټر او نورو اړینو برخو ته یې هڅې روانې کړې دي، نو ورسره نوي مسایل او موضوعات هم را منځ ته شوي او ورځ تر بلې نوې پنځونې هر ډګر ته راوځي، پخوانۍ اړیکې، کړه وړه، فوکلوریک او دودیز اړخونه او توکي په نوو بڼو سره را ښــکاره کېږي او یا یې څه له منځه تللو خوا ته روان ښــکاري، نو په کار داده چې پخواني فوکلوریک ارزښــتونه خوندي کړای شي چې راتلونکي نســلونه له هغوی یو څه واخلي او یا یو څه پکې وویني. همدلته ده چې د فوکلوریکو توکو راټولونه او خوندي کول خپل ځانګړی ارزښت لري. که فکر وکړو، نو فوکلور د خلکو د لاس ته راوړنو او ارزښتونو ټولګه ده او هم یې موضوعات تنوع او رنګارنګي لري. «دا چې د فوکلوري موضــوعاتو، ایماژونو، اســتعارو، تشــبهاتو، اســطورو او بدیعي ځانګړنو د هنري نوښــتونو او تلمیحاتو لپاره زیاته اســتفاده کېږي، آن د نړۍ یو شمیر شهکارونه په نېغه توګه له فوکلور څخه په الهام اخېســتلو سره رامنځ ته شوي دي چې لا مخکې د ډېرو خلکو په خولو کې جاري وو.» (زغم، ۱۳۹۴ل: ۳۹مخ)

د فوکلور خوندي کولو په دغو ارزښتونو کې د یوې ټولنې ذهنیت او فکري پرمختګ، د ژبې او فرهنګ اړخونه په هنري تفسیر او تعبیر سره وړاندې شوي، دا توکي باید راټول، خوندي او ثبت شي. که له دغو ارزښتونو سره ســطحې او سر سري چال چلن وشي، نو فوکلوریک ارزښــتونه به په خاورو کې ډوب شي او له منځه به لاړ شي، پر همدې بنســټ «د فوکلور پوهنې رو شونه فوکلور ټولوونکیو ته ښــیـــــي چې دوی دې د شفاهي او نېمه فوکلور شفاهي توکیو په ضبط د ویونکیو ګړدود له پامه ونه غورځوي، که فوکلور ټولوونکي سندرې او نور توکي

د لهجې په پام کې نېولو سره سم ټول کړي وي، نو به یې له یوې خوا د امانت اصل له پامه نه وي غورځولی او له بلې خوا به یې شفاهي توکي له خپلو ټولو باریکیو سره ثبت کړي وي. له بلې خوا به د ادب پوهانو او ټولنپوهانو سربېره ژبپوهانو لپاره هم ارزښتمن وي. که شفاهي توکي د ویونکیو له لهجې سره برابر ټول شي، لهجه څېړونکي ترې ډېره ښه استفاده کولی شي.» (هېوادمل، ۱۳۷٦ل: ۴۹مخ)

که دې پورته څرګندونو ته ځیر شو، نو په کار دا ده چې د هرې سېمې فوکلوریک توکي او عناصر دې د هماغې سېمې او د خلکو د لهجې سره سم راټول او خوندي کړای شي، د دې کار ستره ګټه دا ده چې ژبپوهان به په لهجوي څېړنو کې ترې ګټه واخلي. د دې تر خوا د نورو ټولنیزو علومو څېړونکو او پوهانو ته به د خامو توکو او عناصرو په برابرښــــت کې مرســــتندوی شي، نو دا چارې او کارونه د فوکلور خوندي کولو اړتیاوې او ارزښتونه بللی شو.

فوکلور خوندي کولو بهیر کې بل د پام وړ ټکی غور او دقت کول دي، ځکه هر توکی بابېزه او سر سري ونه ګڼل شي او یو وړوکي اړخ هم باید له پامه ونه غورځول شي او په پوره امانتدارۍ سره خوندي شي. په اړه یې داســې لولو: «هغه ځوانان چې سېمه په سېمه فولکلور راټولوي باید ځار واوسي چې د فولکلوري موادو ډېر واړه جزونه هم له سترګو ونه غورځوي او په ډېره امانتدارۍ یې ثبت او خوندي کړي.» (رفیع، ۱۳۹٦ل: ۸٦مخ)

دا ځکه چې د ټولونې، خوندي کولو او څېړنې په چارو کې باید ټول فوکلوریک توکي له مصــــنوعیت نه وژغورل شي او یا هم ډډه ترې وشي. په اړه یې دا څرګنـدونې وګورئ: «فوکلور راټولولو کې میتودلوژي حکم کوي چې د ولس فوکلوري پانګه دې د همدوی په ژبه راغونډه او خوندي شي، په کومو فوکلوري موادو کې چې لاس وهنې وشي او یا ادبي رنګ ورکړل شي، لاس پرې ووهل شي یا په بله اصــطلاح لاس پکې ووهل شي، نو بیا دا مواد فوکلوري ارزښت له لاسه ورکوي.» (رفیع، ۱۳۸۹ل: ٦۲مخ)

د دې اند پر مټ ویلی شو چې په فوکلوریکو توکو او عناصرو کې باید په هېڅ ډول لاسوهنه ونه شي او د امانت ساتل پکې یو اصل دی، باید فوکلور ټولوونکی هر توکی په خپله طبیعي بڼه راټول او ثبت کړای شي، په اړه یې داسې لولو: «کله چې موږ فوکلوري مواد راټولوو هغه باید په خپله اصلي بڼه او دغه امانت راتلونکي نسل ته او راتلونکو څېړونکو ته لکه څنګه چې په ټولنه کې موجود دي، ور وسپارو.» (ناصر، ۱۳۹۹ل: ۳۴مخ)

په فوکلوري ارزښــتونو او توکو کې امانتداري ســتر ارزښــت لري، نو پکار ده چې په هماغه بڼه ثبت او خوندي شي چې څنګه په ولســونو کې د ژوند ســاه اخلي. «په فوکلور ټولونه کې باید د امانتدارۍ خیال وســاتل شي. که فوکلور شفاهي، یعنې لفظي وي، باید هر جمله په اصـلي بڼه ثبت شي، د خبرو ټېپ کول دا اهمیت لري چې په هغو کې لهجوي خصـوصـیات، لکه د تلفظ شکل، د لغاتو د اسـتعمال طرز، انټونېشـن (Intonation) او داسې نور په دقت سره څېړل کېدای شي.» (روهي، ۱۳۹۹ل: ۳۸مخ)

د علمي موخو لپاره باید شفاهي او فوکلوریک توکي او عناصر په خپل اصلي او طبیعي ډول راټول کړای شي او په هماغه بڼه یې بیې له بدلونه خپاره کړو چې د علمي څېړنو لپاره د باور وړ وګڼل شي، که چېرې داسې ونه شي، نو خپل اصلي جوهریت او باور له لاسه ورکوي او د مصنوعیت رنګونه خپلوي. په اړه یې یو پوه داسې لیکي: «که چېرته موږ د عوامو د ایجادیاتو یوه کلمه هم واړوو، نو په هغه صورت کې د هغو پر نورو اړخونو هم لاس برې پیدا کوو، نو په دې حالت کې کولی شو د عوامو په ایجادیاتو کې نوي مضامین ور زیات کړو چې دا کار د علمي غوښتنو پر خلاف کار دی.» (امانوف، ۱۹۸۳م: ۵مخ)

که چېرته یو فوکلور څېړونکی او شنونکی دغه اصولو او معیارونو ته پام ونه کړي، نو د فوکلور ټولونې او خوندي کولو له اصولو او ځانګړنو په څرګنده بغاوت او سرغړاوی ګڼلی شي. یو څېړونکی او فوکلوریست په دې اړه داسې لیکي: «همداسې ډېرو ټولوونکیو د فوکلور ځینې برخې په دې نیامت حذفې کړي دي چې د دوی په اصطلاح له ښاري فرهنګ سره اړخ نه لګوي، ځینې برخې یې په دې اساس غورځولي چې ورته بابېزه ښکاره شوي دي، حال دا چې دا ډول کارونه د فوکلور ټولونې له اصولو ښکاره سرغړاوی بلل کېږي، ځینو حتی په فوکلور کې ډېرې نورې ناوړه لاس وهنې کړي دي.» (هېوادمل، ۱۳۷۶ل: ۴۸مخ)

که موږ دېته ځیر شو، نو څنګه چې انساني حافظه یوه څه اخلي ، دا بیا د وخت په تېرېدو سره بېرته هېرولی هم شي. که د دغې سترې او اړینې پانګې راټولونې او لیکنې ته پام ونه شي، نو د انساني حافظې نه د هېرې کندې ته په اسانۍ سره غورځېدلی شي. بله داچې که راټول، ولیکل او خوندي شي، دا بیا نورو کلتورونو ته په اسانۍ سره لېږدول کېږي او هغوی زموږ له کلتور سره ا شنایي پیدا کوي او یوه ټوله د بلې ټولنې سره رانژدې کوي. په اړه یې یو څېړونکی داسې لیکي: «د شفاهي عنعنې لیکل د فوکلور په حیث د هغې ارزښت او فوکلوریت ته زیان نه رسوي او حتی ګټه یې لا دا ده چې که ولیکل شي، نو په هماغه خپل شکل ثابت خوندي کېږي، له مرګ ساتل کېږي او نورو کلتورونو ته یې انتقال هم اسانېږي، انساني حافظه، لکه څنګه چې یو شی ژر اخلي او زده کوي یې، هغسې یې ژر هېروي هم، لکه څنګه چې یو شي ژر جوړوي، هغسې یې ژر خرابوي هم، نو فوکلور لیکل فوکلور له هېرولو او خرابولو څخه ژغوري.» (رفیع، ۱۳۸۹ل: ۱۳مخ)

فوکلور یا ولسي-ادبیات د جوړښت او منځپانګې له مخې ډېر غني دي، هره برخه یې د موضوعات له اړخه ډېره رنګیني او خوږلني لري چې د جوهریت رنګونه پیې څپاند ښکاري. همدارنګه د ټولنیز ژوند ډېرې خواوې پکې انځور شوي. د ولسونو ذوقونه، دردونه، ناخوالې او محرومیتونه پکې په څپو دي، نو د دغسې سترې پانګې راټولول، چاپول او خوندي کول، که له یوې خوا د ولسي-ادب پانګه او زېرمه لا بډایه کوي، نو له بله پلوه د مستقبل نسلونه د خپل ولس د مادي او معنوي ارزښتونو او ویاړونو را خبروي، دا یې بل ارزښت دی چې بشري ټولنې د همدغو توکیو په مرسته په څو اړخېزو برخو کې وده او پرمختګونه تر لاسه کولی شي. په اړه یې یو لیکوال داسې لیکلي دي: «اوسنی فوکلوري پوهنه نه یوازې د فولکلور ګډون یا تکرار ثبتوي، بلکې د هغو خاصو

ملي او اجتماعي شرايطو څېړنو ته ارزښت ورکوي چې بشري ټولنې د هغو سره سم وده او پرمختيا کوي او د دغو شرايطو له مخې فوکلوريک اثار يو تر بله نژدې يا لرې کېږي.» (دوست، ۱۳۸۵: ۳۴ مخ)

## پايله

که د پايلې په توگه يې ووايو چې فوکلوري توکي او مواد د جوړښت او منځپانگې له مخې ډېر بډايه دي او د ولسي ـ ژوند او ذوقونو هر ډول رنگونه پکې محسوسېږي، نو د خوندي کولو اړتيا او ارزښت يې خورا زيات دی، اوس دا په کار دي چې زموږ ليکوال، څېړونکي او فوکلور راټولوونکي دې د پښتني ټولنې د بېلا بېلو سېمو، درو، باندو او کليو نه گړني ادبي، هنري او ژبني توکي له ولسونو او خلکو نه راټول کړي چې د پښتو ادبياتو پانگه لا پسې بډايه شي. نورو ملتونه ترې خبر شي او په هره برخه ترې گټه واخلي. د دغسې ستړې پانگې راټولول او خوندي کول، که له يوې خوا د ولسي ـ ادب پانگه او زېرمه لا بډايه کوي، نو له بله پلوه د مستقبل نسلونه د خپل ولس د مادي او معنوي ارزښتونو او وياړونو نه خبرېږي، د ژوند د ډول او کړو وړو انځور يېويني. دا يې بل ارزښت دی چې بشري ټولنې د همدغو توکيو په مرسته په څو اړخېزو برخو کې وده او پرمختگونه ترلاسه کولی شي.

په تاريخونو کې چې کومې پوښتنې ناځوابه پاتې شي، نو د هغې رښښه او ځواب دواړه په فوکلوريکو موادو او توکو کې موندل شوي او موندل کېږي چې دا په خپله د فوکلور ارزښت بللی شي. دا خبره هم اړينه ده چې په فوکلوريکو توکو او عناصرو کې بايد په هېڅ ډول لاسوهنه ونه شي، ځکه امانت ساتل پکې يو اصل دی، بايد فوکلور ټولوونکی هر توکی په خپله طبيعي بڼه راټول، خوندي او ثبت کړي، که چېرې دا کار ونه شي، نو فوکلور د معنوعيت رنگونه خپلوي او د اصليت رنگ او بڼه يې تته او پيکه کېږي.

## وړانديزونه

موږ دا وړانديزونه هم اړين بولو چې د افغانستان علومو اکاډمي، د پېښور پښتو اکېډمي، د کوټې بلوچستان اکېډمي دې د خپلو فوکلوري څانگو غړو ته دندې، علمي کنفرانسونه او پروژې ورکړي چې د پښتني ټولنې دغه مادي او معنوي پانگه راټوله او خوندي کړي.

د دې تر خوا دې د هېواد پوهنتونونو اړوند څانگې دې خپلو محصلانو ته دندې، پايليکونو او تېزسونو په موخه موضوعگانې ورکړي چې فوکلوري اړخونه او توکي راغونډ او خوندي کړای شي.

همدارنگه د اطلاعاتو او کلتور وزارت دې خپلو اړونډو رياستونو او د کلتور امريتونو په مرسته دغه پانگه له ولسونو او کېږديو را ټوله او خوندي کړي چې د فرهنگ په بډايتوب کې ترېنه گټه واخيستل شي.

**ماخـذونه**

ازمون، لعل پاچا. (۱۳۹۵ل). پښتوفولکلوري ادبيات. لومړی چاپ. کابل: پکتوس خپرندويه ټولنه.

امانوف، رجب.( ۱۹۸۳م). رباعيات خلق تاجک. انستيتوت زبان و ادبيات بنام رودکی. چاپ.

بختانی، عبدالله.( ۱۳۹۹ل). پښـتو شفاهي سـندرې، مقاله. د فوکلورپوهنې سـيمپوزيم، دويم چاپ. کابل: د افغانستان علومواکاډمي، د اطلاعاتواو عامه اړيکورياست.

جاج پښـتون زوی، حبيب الله.( ۱۳۸۷ل ). د فولکلور تاريخچه. جلال اباد، ختيزې سـيمې ليکوالواو ژورنالسـتانو خپلواکه ټولنه.

دوست، دوست محمد. ( ۱۳۸۵ل ). د پښتو ولسي ادب لارې. دويم چاپ. پېښور: دانش خپرندوی ټولنه.

رفيع، حبيب الله. ( ۱۳۸۹ل ). فولکلور. فولکلور څېړنه، مقاله. جلال اباد: ختيزې سـيمې ليکوالو او ژورنالسـتانو خپلواکه ټولنه.

رفيع، حبيب الله.(۱۳۹۶ل). فولکلور د علم مور. کابل: امان کتاب خپرولو موسسه.

رفيع، حبيب الله.( ۱۳۹۸ل ). فولکلورڅېړنه، مقاله. په افغانسـتان کې د فولکلور پېژندنې اړتيا. د مقالو ټولګه. ايډيټراو مهتمم، محمد اصـف احمدزی. کابل : د افغانسـتان علومي اکاډمي، دا طلاعلاتو او عامه اړيکو رياست.

روهي، محمدصديق. ( ۱۳۹۴ل). فوکلورپېژندنه. دويم چاپ، ننګرهار: ګودر کتاب خپرنځی.

روهي، محمدصـديق. ( ۱۳۹۹ل). فوکلورباید د تيوري په رڼا کې وڅېړل شي، مقاله. د فوکلور پوهنې سيمپوزيم. د مقالو ټولګه. مدون او سـموونکی، سرمحقق زلمی هېوادمل. کابل: دويم چاپ. د افغانسـتان علومي اکاډمي، دا طلاعلاتو او عامه اړيکو رياست.

زغم، احمدشا. (۱۳۹۴ل). فولکلور او فولکلوري ادبيات. کابل: د افغانستان ملي تحريک، فرهنګي څانګه.

شهرسـتانی، شاه علی اکبر. (۱۳۶۴ل). شيوه ګرد آوری فولکلور، مقاله. فرهنګ مردم، مجله. کابل: اجمن فولکلور.

ناصر، نصرالله. ( ۱۳۹۹ل). د پښـتني فولکلور د چاپي مجموعو څېړندود. کابل: د افغانسـتان علومو اکاډمي، د اطلاعاتواو عامه اړيکورياست.

وفا،محمد داود. (۱۳۹۸ل). د فوکلوري ادب بنسټونه. جلال اباد: مومندخپرندويه ټولنه.

هېوادمل، زلمی. ( ۱۳۷۶ل ) کال. د پښتو ادبي تحريکونه. کابل: چاپ.